د یوناما خبری کنفرانس


**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama-afg.org


**رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

ښاغلی آنتونیو ماریا کوستا د ملګرو ملتونو د عمومی منشی مرستیال او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم په وړاندی د اداری مشر

ښاغلی جنرال خدایداد د مخدره توکو په وړاندی د مبارزی وزیر

*کابل- د آګست د میاشتی ۲۶ نیټه کال ۲۰۰۸*

**د مخدره توکو سره د مبارزې وزير**

د افغانستان د حکومت د سختو هلو ځلو او ژمنتيا او په تيره بيا د ولسمشر حامد کرزې د پـاملرنـي پـه نتيجـه کـي سږ کال د افغانستان دولت وتوانيدلو چي په هيواد کي د کوکنارو کښت ۱۹ په سلو کي راټيټ کړي.

پـه ۲۰۰۶ کـال کـي د کوکنـارو څخـه د پـاکو ولايتونـو شميره ۶ وه او پـه ۲۰۰۷ کـال کـي ۱۳ او سږ کـال دغـه شميره ۱۸ ته پورتـه شوې ده. دا پـه دې مانـا ده چـي د هيـواد پـه نيمـايي ولايتونـو کـي د کوکنـارو کښت پـای تـه رسيدلی دی. هغـه ولايتونـه چـي د کوکنـارو کښت پـه کـي صـفر تـه راټيټ شـوی دی عبـارت دي لـه جوزجـان، سرپل، تخار، ننګرهار او غور څخه. نور هغه ولايتونه چي د کوکنارو د کښت څخه نږدې فارغ کيږي عبارت دي له بدخشان، بغلان، کابل، کنر، فارياب، لغمان، کاپيسا او هرات . زموږ اراده دا ده چي دغه ولايتونـه هم د کوکنارو د کښت د بلا څخه وژغورل شي.

په دريو کلونو کي افغانتسان د کوکنارو د کښت پـه ولايتونـو کـی د ۸۲ پـه سلو کـی څخـه ۶۰ پـه سلو کـي تـه راټيټ شوي دي. زه بايد د دې يادونه وکړم چي د ۱۲ مياشتو په جريان کي د افغانستان د نـشه يـي توکو سـره د مبارزې د وزارت او نورو اړوندو وزارتونو د ښي تاکتيکي تګلارې په پايله کي چي پـه دغـو ولايتونـو کـي يـي غوره کړي ده په زياته پيمانه ترياک د کوچني شمير ولايتونـو څخـه چـي هغـه هم د قـانون د حاکميت څخـه د باندې او نـا امنه ولايتونه دي، راځي.

دغه برياليتبونه په زياته کچـه د کښت څخـه تـر مخـه د هغـه کمپـاين نتيجـه ده چـي د لـومړی ځل لپـاره پـه کـي د محلـي ټـولني مشران، د ينـي عالمـان، د پارلمـان غړي او ځـايی چـاروا‌کي شـامل کـړ‌ای شـوي دي. د حکـومتي اداري، نړيـوالي ټـولني او محلـي اداري تـر منځ د ټولني د پوهـاوی د کچـي لـوړوالی، د کښت څخـه تـر مخـه د کمپاينونو او د هڅوونو لکه د ښو اجراآتو نوښت د پروګرام چي د امريکي د متحده ايالاتو او د انګلستان له خـوا تمويل شوی دی په نتيجه کي دغه د پام وړ برياليتوبونه تر لاسه شوی دي.

د افغان امنيتي ځواکونو د امکاناتو د ښه والی او د سيمه ييزو او نړيوالـو همکـارانو د روان ملاتړ سـره سـره د افغانستان دولت په پام کي لري چي په سيمه کي ثبات راولي او د ياغيانو څخه کنترول تر لاسه کړي.

پـه سيمه کـي د امنيت پـه راوستلو سره د نـشه يـي توکـود قاچـاق څخـه د کمښت لپـاره لا زيـاتي ښـي هلـي ځلـي کيدلای شي. امنيت يوازی د دې پوښتني ځواب نه دی، دلته په کار ده چي د عامـه پوهـاوي، د تقاضـا د کمښت، د نشه يي توکو سره د تړلي فساد کمښت او تر هر څه وړاندې د سيمي وګړو تـه د ژوندانـه د قـانوني امکانـاتو د برابرولو په لاره کي کار وشئ.

د نن ورځي نتيجي دا په ډاګه کوي چي د افغانستان خلک، دولت او پـه تيره بيـا ولسمشر کـرزی د دغـي نـاوړه پديدې سره د مبارزې لپاره همدغه شان ژمن دی.

کلیوالو ټولنو خپله ژمنه د کښت د کچې په راټیټولو کې پوره کړې ده او دا چې د هیواد د نیمايي برخې زیاته يې د کوکنارو څخه فارغه ده- خو دا د دې کار پای نه ده.

موږ باید دغه بریالیتوب په راتلونکو کلونو کې همدغه شان وساتو او په دې کې موږ د نړیوالې ټولنې زیات ملاتړ ته اړ یو. اوسنی وچکالی او د بې وزلی د کچې لوړوالی هغه ستر ګواښونه دي چې کیدلای شي په راتلونکو کلونو کې د کوکنارو د بیا کښت زمنیه برابره کړي او دا په هغه صورت کې چې اغیزمن شوو سیمو ته پرمختیايي مرستې ونه رسیږي.

نړیواله ټولنه باید د هغو ولایتونو ملاتړ او مکافات کولو ته دوام ورکړي کومو چې د ښو اجراآتو د نوښت د پروګرام لاندې ښې نتیجې تر لاسه کړي دي څو چې کلیوالې ټولنې په راتلونکې کې د کوکنارو د کښت کمښت ته ادامه ورکړي.

موږ له نړیوالې ټولنې څخه مننه کوو چې په دغه جګړه کې يې زموږ ملاتړ وکړ خو موږ د دوامدارې مرستې هیله په راتلونکو کلونو کې هم لرو.

ستاسو له توجه څخه ډیره مننه. زه یو ځل بیا افغانستان ته د ښاغلی کوستا د راتګ هر کلی کوم او نوموړی یو ښه زیری لري چې نن به يې له تاسو سره شریک کړي.

**انتونیو ماریاکوستا، د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو دفتر**

د مهربان او رحیم خدای تعالی په نامه. خوشحاله یم په دغه تریبیون کې د نشه يي توکو پر ضد جلالتمآب وزیر سره یم چې د سږ کال د اپیمو د حاصلاتو په باب زموږ د سروی نتیجې وړاندې کوم. خو تر دې کار د مخه غواړم چې ستاسو پام دې حقیقت ته راواړوم چې موږ پریکړه کړې ده دغه رپوټ چې اوس ویشل شوی دی، زموږ یو همکار فضل احمد په یاد وړاندی کړم چې نوموړی څو اونی د مخه په یوه ځان مرګی برید کې په ننګرهار کې مړ شو هغه ته د هغو کورنی ته او البته ټولو هغو داخلي او نړیوالو ملکیانو او پوځیانو ته چې هغوي په افغانستان کې د دیموکراسی او امنیت په ساتلو کې خپل ژوند له لاسه ورکوي. زه به د هغو احصائیو په پام کې نیولو سره چې تاسو ته د رسنیو له معلوماتو څخه چې یو څو ساعته د مخه خپاره شول او له هغه ښه لنډیز څخه معلوم دی، چې د نشه يي توکو ضد وزارت له خوا برابر شوی دي، ډیرې لنډې خبرې وکړم.

دغه زیری نسبتا ښه زیری دی، نسبتا له دې کبله چې دغه رپوټ د یو کال په هکله دی. دا به ښه وي چې د په اوږدو مهالی کی همداسی پاتی شي، خو واقعا له دې کبله ښه زیری او خبر دی، چې د بدلون لوری سم دی. د کوکنارو په کښت کې کابو ۲۰ سلنه کمښت یعني له هرو پنځو هکتارو څخه یو هکتار ځمکه د تیر کال په پرتله نه وه کرل شوې، دغه کښت ۱۵۷،۰۰۰ هکتارو ته راکم شوی دی.

نو حاصلات یوازې ۶ سلنه کم شوی دي: مهم او د منلو وړ دی، خو بیا هم هومره ډیر کمښت نه دی لکه چې په کښت کې دغه کمښت ۷،۷۰۰ ټنه دی. ډیر ښه خبر هغه دی چې ښاغلی وزیر یې رپوټ ورکړ او هغه له کوکنارو څخه د پاکو ولایتونو شمیر دی- اجازه راکړئ چې ډیر دقیق وغږیږم، له تریاکو څخه خلاص کښت، د دغو ولایتونو له لارې یو څه پروسس کیدل او څه قاچاق کیدل شته. د هغو ولایتونو شمیر چې له کوکنارو څخه خلاص شوی دی، ۱۸ ته لوړ شوی دی، چې دا د تیر کال په اړوند تقریبا ۵۰ سلنه زیاتوالی راښیي، چې د تیرو دوو کلونو درې برابره کیږي. دا یو ډیر عالی خبر دی: یعنې چې د هیواد تر نیمایي ولایتونو زیات اوس له کوکنارو څخه پاک دي.

البته ډیر مهم دا حقیقت دی، چې د اپیمو د کښت تاریخی ځای ننګرهار سږ کال د صفر درجې کښت ثبت کړ. دا یوه مهمه پراختیا ده ځکه راښیي چې حتی هغه ولایتونه چې دلس ګونه زره ټنو کښت یې ځانګړنه وه، کولای شي په یوه ډیر لږ وخت کې دغه کښت راکم کړي.

یو بل مهم ټکی چې تاسي به یې مهم وبولي او که نه دا دی، چې دغه کښت اوس په ډرامتیکه توګه په یو خورا محدود شمیر ولایتونو کې تمرکز پیدا کړی، چې پنځه یې په جنوب او دوه یې په مرکز کې د هیواد په جنوب لویدیځ کې پراته دي. دغه ولایتونه تاسو ته معلوم دي: په جنوب کې کندهار، ارزګان، فراه او نیمروز، د هیواد په جنوب- لویدیځ کې او د هیواد به مرکزي سیمو کې دایکندی او زابل دي.

د کوکنارو د ټول کښت کابو ۹۸ سلنه اوس په دغو او ولایتونو کې کیږي. په بله وینا، موږ تقریبا ویلای شو، لکه چې ما یو څو دقیقی د مخه ولسمشر ته وویل، موږ نور د افغانی اپیمو ستونزه نه لرو- بلکې په افغانستان کې د اوو ولایتونو ستونزه لرو. دا یو پرلپسې او مهمه پراختیا ده چې باید شرحه یې وشي. واقعا کله چې سړی نقشې ته ځیر شي، د اپیمو ډیر لوړ کچ تمرکز په دغو سرو ولایتونو کې د هیواد په جنوب او لویدیځ کې دي. دا هغه ولایتونه دي چې په خورا لوړه کچه د یاغیانو د دایمي استوګنې او همدارنګه د منظمو جنایت کارو ډلو په واسطه اغیزمن شوی دی چې له ګډوډیو، بې قانونیو او البته د یاغیانو له ساتنې څخه ګټه اخلي.

یا په بله وینا، موږ یوه قوي دوه اړخیزه اړیکه د کوکنارو د کښت له یوازې خوا او یاغیتوب له بلې خوا وینو.

آیا څه شی سږ کال په کښت کې کمښت راوست؟ دوو لاملونو: یو لامل په ستره پیمانه او دا بل د بشپړوونکی په توګه. زه وایم چې هڅوونکی سلوک د یو ستر شمیر والیانو له خوا، چې ۱۸ والیانو جدي عمل وکړ، د ولسمشر له خوا او په څرګنده د نړیوالي ټولنې او همدارنګه د محلي پرګنو د محلي شوراګانو، او مذهبي مشرانو په مرسته په دې وتوانیدل چې کروندګر په دې قانع کړي چې د کوکنارو کښت بند کړي. زه په دې ټکی ټینګار کوم چې کروندګر یې قانع کړل- په یو او بل ډول- دغه د ټینګې عقیدې پروسه به په یو شمیر قضیو کې ډیره آسانه وي او په نورو قضیو کې لږ آسانه.

په ۱۸ ولایتونو کي د صفر کچي ته د کرکیلي راټیټول لکه څنګه چي ما تاکید وکړ د کوکنارد کرکیلی د له منځه وړلو له عمله نه دی. یوازې یوه کمه اندازه ځمکه اړول شوې، یوازې نږدې ۵،۰۰۰ هکتاره ځمکه د نږدې ۷۷ کسانو د مرګ ژوبلې په ډیر جګ ارزښت چي نیمایي برخه یې ملکي کسان او بله نیمایي برخه یې پولیس وه او له ځانه سره یې زیات اقتصادي لګښت درلود له منځه وړل شوي. نو ددې لپاره موږ د ځمکو د اړولو په برخه کې په خپله پالیسی کې بدلون راولو.

دوهم فکتور چي په دې برخه کي يی رول لوبولي، هغه د هوا حالات دي. په ټولیز ډول د کرنې لپاره هوا مساعده نه وه. د ډسمبر د میاشتې په لومړیو کې هوا ډیره سړه وه، او د وچ موسم له امله په اساسي توګه د فبروری او مارچ په میاشتو کې وچکالي رامنځ ته شوه او له امله یې د ټولو کرنیزو حاصلاتو په کچه کې د تریاکو په شمول کموالی رامنځ ته شو. تر یوې اندازې کولای شم و وایم د بزګرانو ښه سلوک د یو شمیر کرونډو د پریښودلو په برخه کې مرسته کړې ځکه چي دا کرونډې د هوا د نا مساعده حالاتو له امله حاصلخیزه نه وې.

موږ د راتلونکی به هکله څه وایو؟ زه به د هغه څه په هکله په مختصر ډول وغږیږم چي په پام کي یې لرو. لومړی، موږ څو کاله وړاندې په هیواد کي د نشه یي توکو سره د مبارزې په موخه د ولایتونو د کنترول له لارې یوه پالیسی پیل کړه چي اوس مهال موږ ۱۸ ولایتونه د ځان سره لرو.

زموږ نیت دا دي چي د ولایتونو د کنترول دغي پالیسي ته وده وکړو او د ۱۰ ولایتونو د بیا تر لاسه کولو لپاره چي یوه اندازه تریک لري او که په ادبي توګه وویل شي څو سوه هکتاره ځمکه لري، باید له منځه یوړل شي.

خو همدارنګه غواړم و وایم ځیني ولایتونه چي د تریاکو د کښت په حواله زیات پایداره دی باید تر هدف لاندې ونیول شي، دایکندي او زابل ولایتونه په قاطع ډول په ممکننه توګه په راتلونکی کال او ځیني نور ولایتونه د هیواد په جنوب غرب کې په دې ډله کي راځي.

افغانستان د نړۍ په کچه د تر ټولو غریبو هیوادونو له جملې څخه یو هیواد دی. زه د دې هیواد لپاره د زیاتو پراختیایي مرستو په ورکولو ټینګار کوم، دا مرستي باید زیاتي موثره وګرځولی شي، د دې مرستو زیاته برخه د بیروکراسی او قراردادیانو له خوا خوړل شوې دی.

خو، زه غواړم په پراختیایي مرستو کی په ځانګړی توګه د ولایتونو لپاره چي موخه يي د تریاکو د کښت له منځه وړل دی، تمرکز وکړم. دا ډول مرستي د ښه فعالیت د مرستو د ویشلو په نوم یادیږي.
دا ښه فعالیت د والی له خوا څخه باید تصدیق شي، وخت را رسیدلی چي بزګران د کرکیلی څخه د لاس اخیستلو په موخه په رسمیت وپیژندل شي. هغو کسانو چي لا تر اوسه په دې کار لس نه دی پوری کړی، هغوي به په راتلونکی کې په دې کار لاس پورې کړي.

په پیل کې ما وویل چې اطلاعات په نسبي توګه ښه دی. کله چې ما وویل اطلاعات په نسبی توګه ښه دی، دا ځکه چې دا اطلاعات سږ کال د بدلون په حال کې دي. زما بله اندیښنه دا ده چې په راتلونکی کال کې هم دا هدف تعقیب شي. په دې اړه هیڅ ډول ضمانت موجود نه دی چې په ۱۸ ولایتونو کې دې د تریاکو د کښت کچه د صفر په حالت کې پاتې شي.

موږ د موسمي حاصلاتو په هکله غږیږو. سږ کال بزګران ښایي کرکیله وکړي او یا یې هم و نه کړي خو په قطعي توګه موږ پخوانی حالت ته د ګرځیدو د ګواښ سره مخامخ یو.

په ۲۰۰۴ کال کې د ننګرهار د ولایت په نږدې ۳۰،۰۰۰ هکتاره ځمکه تریاک کرل شوی وه خو دوه کاله وروسته دا کچه نیمایي ته راښکته شوه او بیا بیرته لوړه شوه.

ننګرهار په ۲۰۰۱ کال کې د صفر کچې ته راټیټ شو، په ۲۰۰۴ کال کې ۳۰،۰۰۰ ته لوړ او په ۲۰۰۵ کې بیا صفر، تیر کال ۲۰،۰۰۰ هکتاره او په ۲۰۰۸ کال کې بیا صفر ته راټیټ شو. دا ښکته او پورته حالات و، او زه دا نه ردوم چې ننګرهار او نور ولایتونه به بیا د تریاکو کښت ته مخه نه کړي که چیرې بزګرانو ته پایداری مرستې برابرې نه شي او د حکومت له خوا والیانو ته ښه لارښودونه برابره نه شي، هغوي باید مسیر تعقیب کړي.

یو شمیر نورو نوښتونو ته په سریزه کې ځای ورکړل شوی ، زه ستاسو څخه هیله کوم چې د سروی سریزې ته مراجعه وکړئ.